# علم او ادب

## څنگه؟ څوني؟ کله؟

د مضمون عنوان درې پوښتنې دي، او زما مقصد هم دا دئ چې درې سره په دې وينا کښې لږ لږ وڅېړم.

لومړی بايد د (علم او ادب) کلمات چې اصلي مطلب هم دوي دي لږ څه وسپړم وروسته چې دغه لومړني مطالب لږ څه څرگند او ښکاره سوه ولاړ به سم د پوښتنو غبرگون ته.

زما مقصد په دې مقاله کښې علم دئ په معنی اعم، چې په اوسنۍ اروپايي اصطلاح ئې Science بولي او دا هغه پوهني او انساني معلومات دي چې د مشاهدې او تجربې له لاري په مثبت ډول منځ ته راغلي دي دغو علومو ته "تجربي پوهني" هم وايي.

ادب ته که څه هم په دغسې ارت نظر وگورو نو به ټولي هغه پوهني پکښې داخلي سي کومې چې په وينا او بيان اړه لري، او په نوې اصطلاح ورته Literature وايي، که د خبرې لنډونه وغواړو نو وايو : چې د ادب آره او سته "ژبه" ده او ژبنۍ پوهني "ادبيات" دي. په حقيقت کښې هم د دغو دوو اساسي عنصرو مجموعه ده چې خلک ئې اوس کلتور يعنی ثقافت او تهذيب بولي او که ئې په پښتو تعبير کړو نو به ئې "سمبنت" وبولو يا بل څه.

که څه هم د هر اولس .کلتور او ثقافت ځيني نور عناصر او آري هم لري مگر پوهنه او ژبوري (علم، ادب) د کلتور بنسټونه دي.



په نړۍ کښې هيڅ داسې اولس نسته چې بې له دغو دوو آرو دي د دوی د ثقافت ودانی ټينگه دربدلې وي يا دي بېله دغو عناصرو د "ملی ثقافت" خاوندان سوي وي. مگر که سړی وغواړي چې د يوه ملت په ژوندانه کښې د پوهنې او ژبورۍ يعنی علم او ادب سبقت او دمخه والی وښئي، چې کوم يو مهم او کوم اهم، او کوم سابق او کوم لاحق دئ دا مبحث ډېر دقيق او د ځيرتوب وړ دئ، ولي که ووايو چې (علم) اهم دئ نو به ژبور (اديب) راته ووايي چې ژبه نه وه نو علم چيري وُ؟ که ژبه او ادب نه وي نو به علم په کمه ذريعه خپور سي؟

ښايي چې دغه خبره يو پوه (عالم) سړی واوري نو به ژبور ورته هسې ووايي : چې (ادب) غايه او مقصد نه دئ بلکی وسيله او ذريعه ده نو ځکه پوهنه تر ژبورۍ دمخه او اهمه ده.

داسې دلايل يو د بل په مقابل کښې ډېر سته او زما دغه مقابله هم د دغو دلايلو د څېړلو لپاره نه ده. نو ځکه تر دې زيات نه پکښې لوېږم، زما په خيال په هر شي کښې غلو او افراط او تر حده تېری ښه نه دئ علم وي که ادب، ښه خوی وي که زهد، په دې کښې شک نسته چې علم بالذات ښه شی ادب هم مفيد عنصر دئ، اخلاق هم د جمعيت د ښېگڼو اساسونه دي مگر که سړی مثلاً سخاوت تر حد تېر کړي اسراف به سي او بد دئ. که سړی مثلاً په ادب کښې داسې غلو او افراط وکړي چې دغه بالذات غايه وگڼي نو به هم يو ښکاره او بې عمله انسان سي. نو د دې لپاره چې د علم او ادب اجتماعي حدود او وېشونه او بريدونه څه نه څه وټاکل سي لاندي بحث او څرگندونه دي ووېله سي :

**څنگه؟**

دا لومړۍ پوښتنه ده او بايد د علم او ادب په څنگوالي کښې لږ څه وغږېږو، چې د دغه استفهام ځواب وسي.

علم او ساينس خو ځيني مسلم او مثبت اساسونه لري چي هغه په ټول بشر کښي مشترک دي مثلاً رياضي چي کم اساس او اصول په امريکا کښي لري هغه کټ مټ په ايشيا کښي هم سته، د ساينس ټولي څانگي چي "مثبت علوم" ورته وايو دغسي دي.

نو علم او پوهنه د څنگوالي له لامله بين المللي بلکي بين البشري کيف لري، او پوهنه د انسانانو مشترک مال دئ، ممکنه ده چي په کم اولس کښي يو داسي څوک پيدا سي چي د علم او پوهني ځيني نوی شيان کشف او څرگند کړي، مگر دغه کشف هم ژر ټول انسانان اخلي، او په خپلو گټو کښي ئې استعمالوي نو له دغه لامله داسي ويلای سو چي د پوهني ټول هغه مثبت او حياتي اساسونه چي نن ورځ بشر منلي دي موږ ئې بويه چي دوی څخه واخلو، او زده ئې کړو، او په خپل هيواد کښي ئې خپاره کړو، او هغه د ژوندانه گټي چي نن ئې نور انسانان له پوهني څخه اخلي موږ ئې هم بويه چي له علمه څخه لاسته راولو.

اما ادب د څنگوالي له لامله دغسي نه دئ لکه پوهنه، ادب د هر ملت او اولس لپاره ځانله رنگ، جوله، کيف لري، د يوه اولس ادب د بل اولس لپاره کټ مټ گټور نه وي که څه هم د ادب ځيني اساسونه اوس تقريباً بين المللي سوي دي اما سره له دې هم د هر اولس ادب ځانته ضروريات، ښېگني، اړتياوي او لواحق او لوازم لري. لومړی خو د هر ملت ژبه ځانله او بېله ده، بيا ئې اصول، قوانين، د بيان ښېگني هم بېلي دي، هر محيط او چاپېر ځانله ادبي ضروريات لري، د اولس اجتماعي افکار، اوضاع، عنعنات هم په ادب کښي ژوري اغېزي کوي، عصر او زمان هم په ادب کښي خپل رنگ ښکاره کوي.

نو له دې لامله ويلای سو، چي د هر اولس ادب د څنگوالي او کيف له لامله بويه چي بېل شکل، بېله جوله او ځانله روح ولري.



زموږ ملي ادب هم دغسي دئ ژبه مو پښتو ده محيط مو بېل دئ، د عصر او زمان اړتياوي هم راته گوري، روحيات، عنعنات مو بېل دي، دا ټول عوامل ځانله بېل ادب غواړي او جوړوي ئې.

که په لنډو عباراتو ووايو :

**"بايد زموږ ادب پښتو او هم د معنی او فکر او تخيل له لامله کره اولسي وي" يعني لکه ژبه چي مو خپله ده دغسي مو فکراو خيال هم بايد خپل وي اما هغه قوالب و اسالب چي د دنيا عصري ادب ئې لري بايد وکتل سي او هغه څېزونه چي گټه مو پکښي وي بايد واخيستل سي دلته بايد محافظه کاري او تعصب ونکړو، په هر څه چي مو ملي ژبه غني کيږي ادبي پاسره مومي بايد والي خلو اما په** داسي ډول چي ژبي ته مو گټور وي، نه مضر، نافع وي نه ورانوونکی.

دلته يوه خبره ډېره ضروري او مهمه ده چي بايد وليکله سي هغه دا د ه چي د علم اقتباس او له نوري دنيا څخه اخيستنه اسان کار دئ ځکه چي هغه مثبت او مسلم اساسونه لري نو کولای سو چي د پوهني د هري څانگي لپاره پوهان او متخصصين له نوري دنيا څخه راوغواړو او مثلاً رياضي، کيميا، طبيعيات، او نور علوم ځيني زده کړو يا خپل زده کوونکي د دنيا پوهنتونو ته واستوو، چي هوري عصري علوم ولولي او د تخصص له پاڼو سره بيرته راسي. اما ادب داسي نه دئ ځکه چي د ادب اساس پر ملي ژبه ايښو کيږي او د ملي ژبي متخصصين پخپله موږ يو، تر هر چا زموږ پخپله ښه زده ده، او د "ملي ادب" د تشکيل او تکميل محيط هم دغه غرونه دي.

نو دا کار بايد پخپله وکړو فقط له دباندي نړۍ څخه دونی استفاده کيږي چي د نوي دنيا هغه علمي او عصري اساليب چي د ادب د ژبو د پالني او ودانۍ لپاره ئې تجربه کړي دي موږ ئې هم د خپل ادب او ژبي لپاره تطبيق کړو مگر داسي نه کيږي چي موږ

لکه علم (ساينس) سل په سل کښې له نوري علمي او مدني دنيا څخه اخيستنه او اقتباس وکړو. نو د ادب جوړوونکي او رغوونکي موږ يو او دا مو خپل کار دئ زموږ ادب بايد د دغه محيط ادب وي په خپله ژبه مو وي. امام علم څکه چي يو بين المللي مشترک مال دئ موږ ئې هم له نورو څخه اخيستلای او زده کولای سو.

**ځوني؟**

تر دې ځايه خو د علم او ادب پر ځنګوالي لنډه خبرنه وسوه اوس به پر ځوني والي هم لږ وړغېږو :

علم ته اړتيا خو هر وخت د هر ملت لپاره په هغه اندازه وي چي د دوی ملت روزمره احتياجات او حياتي لوازم پوره کړي، څکه چي نن موږ په عصري ژوندانه کښې ډيري مدني، عمراني، اجتماعي، اقتصادي، سياسي، اړتياوي لرو نو طبيعي ده چي دغو ټولو علومو ته اړ يو، او بايد ژر ژر ئې زده کړو د علم د خپورتيا لپاره موږ خپل ملي ادب ته سخته اړتيا لرو، بايد زموږ ژبه د دغه وړ سي چي هر راز علمي پانګي ولري، د دې لپاره بايد ژر تر ژره خپل ملي ادب تکميل کړو، اما د ادب ځوني والی د غور او دقت وړ دئ. زما په عقيده ادب هر وخت وسيله او ذريعه ده غايه او مقصد نه دئ.

د علم لپاره ادب وسيله ده د تبليغ او تلقين لپاره هم وسيله ده د تهيج او خوځولو لپاره هم، نو بايد تل دا خبره په نظر کښې ولرو، چي ادب وسيله ده نه غايه، يو اولس چي ادب د غايې په ډول تلقي کړي هغه اولس هسي خوشي شاعر مشربه او بلبل مزاجه او تر حد زيات د نري طبيعت خاوند کيږي، يعنی هغه خشونت او جدي او فعال مزاج چي اولسو ته په ژوندانه کښې لازم دي، په رقت او احساساتي ژوند او بالاخره په عيش و عشرت او رخاوت بدليږي.

يو ملت چي نوی په مدني او ارتقايي تګ پيل کوي، بايد هيڅکله دا نکته هېره نه کړي او د ادب په ځنګوالي کښې غلې او



افراط ونه کړي، څکه چي دغه ادبي افراط، ملل له اصلي مقصده پاته کوي، په پای کښې ټول شعر خوانان او قصيده سرايان سي، حال دا چي زر قصيده سرايان پر خپل موقع د يوه کيميا دان ارزښت نه لري او په زرو بدلي او سندري د يوه توپک قيمت نه سي مونډلای. نو ادب خو د وسيلې په ډول ډېر اهميت لري او څکه چي د علم او تلقين او خوځولو لپاره ډېره مهمه وسيله ده ډېر ځله له وسيله والي څخه غايه والي ته رسيږي، او خلک ځان ته د بالذات مقصد په ډول راجلبوي. رښتيا هم دا ده که ادب نه وي نو به علم هم نه وي که ادب نه وي، نو به د صفت، فلاحت، حرفت او نورو مدني شيانو لاري له څه شي څخه زده کووْ؟ او په څه ذريعه به ئې تحصيل کووْ؟ اما که موږ تش ادب خپل مقصد وګرځوو، او دغه د مجاز پل موږ له حقيقته پاته کړي، نو به ټوله بلبل مشربه شاعران سو، او له هري خوني او کوڅې څخه به لس شاعران، شل اديبان راوزي. مګر دا خو ښکاره ده چي هيواد يوازي په شاعر نه ودانيږي، يوازې قلم نه سي کولای چي يو ملت دې خوشبخت کړي. يو ملت څو له وينا څخه عمل ته داخل نه سي، د کتاب له پاڼو څخه عملاً طلا، پترول، ماشين ته ولاړ نه سي يوازې په کتاب خواني يا شعر سرائې يا قصيده ګوئې له سيالانو سره نه سميږي.

نو بايد موږ تل د ادب په ځوني والي کښې ځير يو بالذات ئې غايه ونه ګڼو، او تر اندازې زيات ډېرښت ئې و نه منو.

**کله؟**

دريمه پوښتنه د کله ده، يعنی کم وخت؟ کم فرصت؟

د اولسو عمر که څه هم ډېر دئ مګر ډېر شباهت د سړيو د عمرو سره لري يعنی اولسونه او سړي د ژوندانه له لامله سره ورته دي. يو سړی چي کوچنی وي د مور شيدو ته احتياج لري چي ابلوغ سي بل راز غذا غواړي، په زلميتوب کښې هم بېل احتياجات

لري. که پر هر وخت هغه خپل احتياجات ور ونه رسيږي وده نه کوي بلکي مري. هر اولس علم او پوهني ته اړ دئ، مگر دغه اړتيا ئې تدريجي ده لکه کوچنی چي د مور شيدو ته اړ وي، نوکاره او نوي ولاړ سوي ملتونه هم په ابتداء کښي د علم هغو مباديو ته اړي دي چي دوی ته روزمره په کار ورځي او عملاً د ژوندانه په لار کښي کومک کوي او ګټي ئې ژر وررسيږي.

مثلاً : د يو نوکاره ملت لپاره هغه علوم چي دوی لاري په سمي کړي پلونه په جوړ کړي، ځان ته د روزمره احتياجاتو تکميل په وکړي، ضروري او لومړنی کار دئ، تر دې چي مثلاً دوی اينشتاين د نسبيت (اضافيت) د نظريې څېړنه او زده کړه نه وکړي. موږ هم اوس په دغه ابتدائي احوال کښي يو، بايد د علومو حياتي او مثبته او منتخبه خوا ونيسو، او د خپل ژوندانه روزمره اړتياوي تکميل کړو. د علم په راوړلو او زده کولو او خپرولو کښي هيڅکله بايد (کله؟) هېر نه کړو، مثلاً تر دغه دمخه چي موږ د کيميا، طبيعياتو، تخنيک، طب متخصصين ومومو، نه ښايي چي د موزيک لپاره خپل عمر ضايع کړو.

ادب هم دغسي دئ لکه علم، هغه وخت چي د (کله؟) پوښتنه وسي نو به ادب هم خپل تدريجي مراتب ومومي، چي ځيني به ئې ابتدائي وي او ځيني به ئې انتهايي. مثلاً : هغه د ادب څانگي چي د ژبي په تشکيل او تکميل کښي کومک کوي تر هغو څانگو چي بالذات د ادب د ښايست او پايښت لپاره وي بايد لومړی وي. لغت او گرامر تر بديع او بيان دمخه دي. په ژبه کښي د ليکلو لاري تاکل تر ډرامه ليکلو اهميت لري. په دې ډول بايد موږ په ادب کښي اهم تر مهم دمخه کړو، او داسي ونه کړو چي د شلو کالو وروسته شيان اوس ته راوړو، او اوسني شلو کالو وروسته ته پرېږدو. ځکه چي دا خبري اوږده لمن لري او نوره څېړنه هم غواړي، نو به اوس ښاغلي ويونکي پر خدای (ج) وسپارو بيا به سره گورو. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۳ لمريز کال، ۳ يمه گڼه، ۱ _ ۴ مخونه.